# د علي خان په شاعرۍ کښې د محاورې هنري انځور

## (Artistic reflection of Idioms in the Poetry of Ali Khan)

**Dr. Faqir Muhammad**[1]
**E.mail** mail faqirm8@gmail.com
Phone #03458686146
Dr. kiran Seeneen[2]
**E.mail kiranseeneen@bkuc.edu.pk**
**Phone# 03316999960**

Issn 2394-1463

## Abstract:

**Ali Khan is one of the five classical poets of the Pashto poetry. He was a great religious scholar of his time. When we study his poetry we also find great deals of Pashto proverbs phrases and idioms. In this article have been made to search out the Pashto idioms and phrases from his deewan. Because a phrase in the back bone of the language increases beauty, Atticism and rhetoric's of the Kalam. Ali Khan was aware of its important. This is why he has used various phrases in his poetry. Poetry is magic of words and idioms are the magic of poetry. Because the words are not used in the real meaning. It gains poetic and metaphorical meaning in a sense.**

علي خان په کلاسيکي دوره کښې د خپل معياري اسلوب، رنګين بيانۍ فني او فکري انداز، د تعزل او تخيل په اساس د ځانګړي مقام څښتن دے. که هر څو د هغهٔ د قوميت او مقاميت په اړه پوهان يوه خلهٔ نهٔ دي. نو بيا هم د هغهٔ د فن، فکر او شاعرانه عظمت نه چا هم انکار نهٔ دے کړے. هغه څو وه؟ د کوم ځائے وهٔ؟ نوم او پيدا وښت ئې څهٔ دے؟ فی الحال دا زما موضوع نهٔ ده. دلته صرف د علي خان

[1] Lecturer Pukhunkhwa Study Center BKU Charsadda.
[2] Assistant Professor Pukhunkhwa Study Center BKU Charsadda.

د محاورو په استعمال خبره کوم. د دېنه وړاندې چې په شاعرۍ کښې ئې د محاورې لټون کوؤ پکار ده چې دا وګورو چې محاوره څۀ شے دے؟

محاوره څۀ ته وائي؟

د محاورې د ټکي بنياد عربي اصل دے. لغوي معنا ئې مشق مهارت او خبرې کول دي.

په اصطلاح کښې محاوره دوه يا د دوؤ نه د زياتو ټکو نيمګړې يا مختصره جمله ده چې د حقيقت په ځائے مجازي معنو کښې استعماليږي. د دې اطلاق په هغه فعلونو کيږي چې اسم سره په شريکه مجازي معنا ولري. بله دا چې په جمله کښې د استعمال نه ئې معنې ښکاره کيږي.

❖ لېکچرار پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون چارسده د محاورې فائده دا ده چې وړه خبره کښې لوئے مطلب ادا کيږي. د ژبې ويونکي پرې په اسانه پوهيږي. ځکه چې که محاوره هر څو ژب پوهان جوړه کړي خو د قبوليت معيار د عوامي قبوليت محتاج وي.

داور خان داؤد د محاورې په اړه ليکي:

> محاوره د يو څو ګرائمري اصطلاحاتو مرکب ده لکه اسم، اسم صفت، حرف جار او مصدر وغېره. دا په مثبت، نفي، جمع او واحد دواړو شکلونو کښې وي. هره ژبه چې څومره پخه او درنه پنګه ولري، هومره د هغې نه د ژبې د علمي استعداد پته لګي.[1]
>
> د محاورې ټکي که لغوي معنا کښې استعمال شي نوبيا به محاوره نۀ بلکې روزمره وي. ډوډۍ خوړل په حقيقي معنا دے نو دا روزمره ده. غوړونه خوړل

> محاوره ده.دغسې "پوزه پرېکول" که چرې دا ټکي په حقیقت کښې د پوزه پرېکولو د کار د پاره استعمال شي نو دا به محاوره نۀ وي. روزمره به وي. محاوره کښې پوزه پرېکول د شرم د پاره مستعمل دے. لکه تا مې پوزه پرېکړه یعنې تا اوشرمولم."[2]

که چرې یو سړے د ځناور مازغه خوري نو دا حقیقت دے. مازغۀ خلق پخوي خوري نو دا روزمره ده. خو کۀ چرې مازغۀ خوړل په مجازي معنو کښې یعنې د ډېرو خبرو کؤنکي یا تنګونکي د پاره راشي نو دا به مجازي وي او محاوره ده. دغسې متې انغښتل روزمره او محاوره دواړه کېدے شي.

> محاوره د ژبې استعمال پورې اړه لري او دا هم څرګندوي چې ژبه چې وئیل کیږي بیاد محاورې زېږېده ورسره د هر دور لغاتو او حالاتو مطابق کیږي. محاوره ختمېده نۀ لري. دا له ژبې سره یوه روانه سلسله وي چې څومره ژبه په مخ ځي. دغسې د هغۀ ژبې محاورې ژیاتوب مومي، نوې نوې رنګونه پېدا کوي. نوې نوې معنې را برخېره کوي، نوې نوې ترکیبونه راوړي او د ژبې و ښائست ته وسعت وړ په برخه کوي.[3]

کۀ څوک د ژبې لغات، ګرائمر زده کړي د هر قسمه مضمون ادا کولو توان هم ولري خو چې په محاوره نه پوهیږي نو مطلب او مقصد په صحیح طریقه ادا کول ګران شي. په یوه ژبه مهارت د پاره په محاوره پوهېدل ډېر اهمیت لري ځکه چې دا په مجازي معنو کښې استعمالیږي او د حقیقي معنو نه ډېر لرې مطلب لري. محاوره د لسانیاتو اهمه برخه ده. او په لږو ټکو ډېر مطلب ادا کول دي .

سید قدرت الله نقوي لیکي:

> محاورات کی حقیقت سمجھنے اور ان پر روشنی ڈالنے کے لئے محاورات کی اقسام، ماخذ، وجہ تخلیق اور الفاظ کے مجازی معنی کا علم

انتہائی ضروری ہے۔ اہل علم تحقیق الفاظ کے ساتھ تحقیق محاورات کو بھی اپنا موضوع بنائیں تو زبان کی ماہیت و حقیقت اور زیادہ واضح ہو سکتی ہے۔ محاورات کا رنگ ڈھنگ، ساخت اور ان مین مستعملہ الفاظ زبان کے مزاج کو اور زیادہ واضح کر سکتے ہیں۔[4]

ترجمه: د محاورو د حقیقت نه خبرېدل او پرې پوهېدلو د پاره د محاورو په قسمونو، ماخذ، د تخلیق د وجوهاتو او د لفظونو د مجازي معنو علم ډېر ضروري دے. د علم خاوندان د لفظونو څېړنې سره سره محاورې هم په نظر کښې وساتي. نو د ژبې ماهيت او حقيقت به لا زيات څرګند شي. د محاورو شکل و صورت او جوړښت او په دې کښې د لفظونو استعمال د ژبې مزاج نور روښانه کوي.

ځنې محاورې داسې وي چې د متلونو په توګه هم استعمالېږي او صرف د مصدر فرق لري. لکه "د پېښې نه تېښته کول" محاوره ده او د "پېښې نه تېښته نشته" متل دے. د مصدر "کول" پکښې د محاورې علامت دے. محاوره او متل دواړه د يوې ژبې او ادب ډېره اهمه پانګه ده او د ځانه جوړول ئې ګران کار دے. د ژبې د خاوندانو لخوا بې ساخته يا د وسيعې تجربې له امله مخې ته راځي او په اولس کښې وده مومي. سينه په سينه د يو نسل نه بل ته رسيږي. او په کلام کښې د زړۀ راښکون او جامعيت سبب ګرځي.

په دې اړه خليل صديقي ليکي:

محاورہ کلموں کی ایسی ترتیب میں کلموں کے لغوی معنی کے بجائے کوئی اور یا مجازی معنی بھی مراد لئے جانے لگتے ہیں اور بتدریج مسلمہو جاتے ہیں۔ کلموں کی ایسی ترتیب یا مجموعے کی محاورہ یاIdiom کہتے ہیں۔ محاورے بھی روزمرہ کی طرح سالہاسال میں قبولِ عامہ کا درجہ حاصل کرتے ہیں۔ ان میں بھی کسی قسم کا تصرف برداشت نہیں کیا جاتا۔ محاوروں کے بر محل استعمال سے کلام کی تاثیر بڑھ جاتی ہے لیکن وہ کلام کے لئے روزمرہ کی طرح ناگزیر نہیں۔[5]

ځنې ژب پوهان محاوره د ګرائمر نه هم اهمه ګڼي.

"محاوره د ژبې په بنيادي جوړښت کښې ډېر لاس لري د يوې ژبې د زده کړې کښې په محاوره خاص خيال ساتلے شي. ځکه چې دا د ګرائمر نه هم زيات اهميت لري. (اردو نه ترجمه) [6]

محاورې د يو قام د دود دستور، رسم و رواج، عادتونو، کردار، رويو او ځانګړنو هېنداره وي. د خپلو مشرانو د عظمت، اهميت نخښې نخښانې برېښوي او اعلٰی قدرونه ځلوي.

"محاوره د يوې ژبې د ويونکو د ژوند او د ژوند د مختلفو اړخونو او رويو عکاسي کوي او د مختلفو سيمو، علاقو او تهذيبونو کښې په معنوي توګه ځان ثبتوي"[7]

د جوړښت او معنی په لحاظ د محاورې درې قسمونه دي.

يو دا چې اسم پکښې مجازي معنا لري. لکه خاورې کېدل. زړۀ کېدل، لاس کول، دويم قسم هغه دے چې مصدرونه مشتقات په مجازي معنا راشي لکه غم خوړل، واره خوړل، غم کول وغېره.

دريم قسم کښې اسم او فعل دواړه مجازي معنا لري.

لکه لېمه وتل ، سترګې سپنېدل، ماغذۀ يشېدل، او نور

د دې بنيادي درې قسمونو نه علاوه محاوره په نور څو قسمونو کښې هم وېشلے شوې ده چې مختصر ذکر ئې ضروري ګڼم.

(۱) تشبيهي محاورې: چې د تشبيهـ رنګ پکښې ښکاره وي.

لکه د کاغذ زړۀ نري کېدل. د سر تر وېښتو زياتېدل.

(۲) استعاراتي محاورې: چې د استعارې په ذريعه ترې مطلب واخستې شي او د استعارې رنګ پکښې ځرګند وي.

باغ باغ کېدل. سپينه سپوږمۍ کېدل. رڼا ورځ کېدل.

(۳) تهذيبي محاورې: چې د ژوند د حالاتو او واقعاتو سره تعلق لري. او د ژوند ترجماني کوي.

سر ټيټول: غاړه ايښودل، په سر سترګو منل.

(۴) روایاتي محاورې: چې بنیاد ئې په څۀ روایت وي. د بل سکارۀ راوړل. په سر کارغۀ تېرېدل. د هما سورې کېدل.

(۵) ساده محاورې : دا هغه قسم دے چې په ساده لفظونو ادا شي څۀ استعاره او تشبيه نه لري. غم خوړل، زړۀ خوړل، سترګې سترګې کېدل.

(۶) د رسم و رواج محاورې: چې د رسم او رواج معنې ترې برڅېره کېږي.

په رنګ کښې بنګ اچول، اختر کېدل.

(۷) مذهبي محاورې: چې مذهبي تاثر ترې ځرګندېږي : ايمان خرڅول، په اودس کښې ګرځېدل، په ګور نور کېدل.

(۸) عددي محاورې: يو کېدل، دوه په دوه کېدل، يواځې کېدل.

(۹) فلکياتي محاورې: اسمان ته توکل ، ستورې شمېرل، تر اسمانه رسېدل.

(۱۰) کيفياتي محاورې: رنګ الوتل: په سر اور بلېدل، وجود مېږې مېږې کېدل.

(۱۱) نباتاتي محاورې لکه پاڼې پاڼې کېدل، په تلي کښې شړ شم زرغونول. بوسو کښې اوبه بوتلل.

د دې نه علاوه نفسياتي، مشاهداتي، حېواني او د کار روزګار محاورې هم شته.
پښتو ژبه کښې د محاورې لويه سرمايه ده. دا که يو طرفته د ضرورت له مخې جوړېږي نو بل اړخ ته مونږ ته د خپلو مشرانو نه هم په ميراث کښې دا قيمتي پنګه پاتې شوې ده.

## د علي خان په شاعرۍ کښې محاوره

محاوره په شاعرۍ کښې ظاهري او معنوي حُسن پېدا کوي. پکار ده چې يو شاعر يا ليکوال په ليک کښې د محاورې استعمال کوي. يو خوا به د ژبې دا اثاثه محفوظه شي او بل پله به ليک کښې رنګيني پېدا کيږي.
د علي خان په شاعرۍ کښې د سوچه محاورو استعمال ډېر دے چې د شاعرۍ حُسن ئې پرې يو په دوه شوے دے. او هم دا وجه ده چې لوئے مقصد ئې په وړه جمله يا څو ټکو کښې په ډېره ښه طريقه ادا کړے دے.
علي خان د اصلي او صحيح محاورو په استعمال عبور لرلو. او دغې انفراديت ئې د کلام خوارۀ نور هم سېوا کړي دي. د هغۀ په کلام کښې د مثال د پاره دا محاورې وړاندې کوم.
زړۀ پرېوتل: محاوره ده چې د غمجن کېدو او مايوسه کېدلو د پاره استعماليږي.

د خـــزان پـــه بـــادمې زړۀ پـــه زمـــين پرېـــوت
الهـــــي کـــــرم مســـــبب الاســـــباب8

زړۀ توربدل: د چا نه د خفګان ، نفرت، ناراضګۍ او بې اعتمادۍ د پاره وي.

لکـــه زړۀ زمـــا چـــې تـــور وو د ناصـــحه

هسې زړۀ شو د خوبانو تور له ما[9]

زړۀ شين کېدل: د غم کؤلو او بې قرارئ په معنا.

د نرګسو سترګې زېړې له حوارۍ شوې
غم زده سوسن تک شين کړ په وهل زړۀ [10]

زړۀ داغل: تکليف رسول، نقصان ورکول:

هزاره هزار پاره شوله افسوسه
د ريدي غريب ئې ورک کړو په داغل زړۀ[11]

زړۀ پاره کېدل: په غم او تکليف اخته کېدل:

ستا د مرګ په نعره زړۀ زما پاره شو
خود به چاود چې پرې د هجر منشار تېر شو[12]

زړۀ چودل هم محاوره ده چې پورتني شعر کښې ښکاره ده.

يا دا چې:

د خوږ زړۀ بيان هله وکا مختوري
چې سر بائلي قلم خوږ کا په چول زړۀ[13]

زړۀ رغول: مينه کول، مدد کول

پردي زړونه رغوه ثو دې قابو وي
علي خانه رضا مۀ غواړه د خپل زړۀ[14]

زړۀ چول

کوم يو زړۀ د زماني له دسته روغ دے
ثۀ چوم د خوږو زړونو په چول زړۀ[15]

زړۀ وکښل، وير ول

روڅې سترګې د خوبانو نور څۀ نۀ کا
خو وکاږي مژګانو په منګول زړۀ[16]

زړۀ ستړي کېدل،

زۀ يواځې نۀ يم د هجران له لاسه ستړې
واړه مهجوران کړل په زړۀ ستړي بېلتانۀ[17]

زړۀ اوېزاندول

د بلبل د ګل د غم قيصه ده لنډه
تر کمره ئې اوېزاند کړو د سنبل زړۀ[18]

په اوبو کرښه راښکل

بې اعتماده کېدل، وعده نۀ پوره کول

په وعده خلافېده شرمېدل لاړل
ګويا کرښه د اوبو قول و اقرار شو[19]

توری کول: د وژلو په معنا ، وهل ټکول

نن ئې ګل غوندې تازه کاندي غړانګه
بيا ئې ګانده اوېزان لکه توری کا[20]

سترګې يا کسي سپينېدل

د رندو او بې شرمه کېدلو په معنا

کسې به د ې سپين شي پټ لېمه ژاړه مهجوره
بند پکښې د يار د تورو سترګو خيال لره[21]

**د غم تیغې ختل: تکلیف، غم او پرېشانۍ د پاره**

چې وجود مې د تېرې د عدم وخوت
لکه تیغې په ځنګل کښې د غم وخوت[22]

**ځیګر ور تېدل: بې انتها تکلیف**

خپل ځیګر که ناصح وریت کا پرې ئې وخوري
سود ئې نهٔ رسي د جهل و شمکور ته[23]

**غونې زیږېدل: ویرې اخستل:**

هغه دم چې عقل کج غوندې مې زیږ شو
چې څرګنده ئې زږه کږه مندرۍ کړه[24]

**عقل کج کېدل پورته شعر کښې بله محاوره ده**

**سینه سورۍ سورۍ کېدل**

غمزده زړګے چې ئې ښاد په ښادۍ نهٔ کړ
په غمزو مې ئې سینه سورۍ سورۍ کړه[25]

**ورځ کږېدل:**

زړهٔ مې دې غم غوڅ کړ په مخ ماهه قبله ګاهه
ورځ مې دې کږه کړه کج ابرویه کج کلاهه[26]

**پوزه پرېکول: د شرم په معنا**

خود دې یم زورلې بیا مې څهٔ پوښتې له حاله
څهٔ له پوز پرې کړي وته نیسي ائینه[27]

**له برمه پرېوتل**

کمزورۍ کېدل یا عزت کښې کمې راتلل

اوس بــه مــې د هجــر هــوا پرېباســې لــه برمــه
پــاتې راتــه هــېڅ نــهٔ شــوې د اوښــکو دا نــوکۍ[28]

د شګو پړې غړل:

نــــهٔ راتــــه ګــــورې نــــهٔ څــــهٔ پــــروا لــــرې
بېهــــــــوده پــــــــړې د شــــــــګو غــــــــړم[29]

د باد مخې ته توکل

نــهٔ دې اوړېــدونکے علــې خــان لــه خپلــه عشــقه
څــهٔ لــه ناصــحانو د بــاد مخــې تــه تــوکۍ[30]

اور پوکل:

اور د محبــت بــه مــې پــه دا ســره مــړ نــهٔ شــې
لا ئــې بــې دردانــو د تهمــت پــه اور پــوکۍ[31]

سپینې لنډېدل:

علــې خــان ځنګــه لــه غــم پــه ځنــګ شــې
چــې د خــوار ســپینې هجــران تــه لنــډې شــوې[32]

ګوګل وچېدل:

وچ ګوګــل زمــا بــه اخــر ســوۂ پــه اور د هجــر
څــو بــه مــې لمــدولو د چمــانو پــه چینــه[33]

د علي خان په کلام د محاورو استعمال ډېر او په ښهٔ طریقه شوې دي چې د ژبې په پر مخ تګ او د اظهار په جدت کښې اهم کردار لوبوي. د کلام او ژبې په ښائست

کښې اضافه کوي. د دوي په محاورو کښې د پخواني دور د حالاتو عکاسي هم په نظر راځي او د لطف او خوند سبب هم ګرځي. محاورې د اولس د ماحول او مزاج مطابق جوړيږي او د ژبې اهمه حصه ګرځي. دَ فصاحت او بلاغت سره سره لفظي او معنوي ښکلا هم پيدا کوي.

## حواله جات (References):

[1] داؤد ، داور خان، پښتو محاوره، مشموله، تاتره جنوري، مارچ، ۲۰۰۲ء، مخ ۴۴
[2] فقیر، فقیر محمد، د قاسم علي خان افریدي دیوان ، ایم فل مقاله، علامه اقبال اوپن یونیورسټي، ۲۰۱۲ء، مخ ۱۵۳.
[3] عامر، عبدالکریم، پښتو محاورې، لورالائي، پښتو څیړنه، مارچ ۲۰۱۱ء مخ ۴۲.
[4] قدرت الله، سید، لساني مقالات و اشارات ، اسلام اباد، مقتدره قومي زبان، ۱۹۸۸،مخ ۲۴۳، ۲۴۴.
[5] خلیل صدیقي، زبان کیا هے؟ لاهور، ملتان، بیکن بکس ، ۲۰۰۹ء ، مخ ۳۸.
[6] سهیل بخاري، ډاکټر، لساني مقالات، اسلام اباد، مقتدره قومي زبان، ۱۹۹۱ء، مخ۲۵۱.
[7] عابد، عبدالله جان، پشتو محاوره تهذیبي اور لساني مطالعه، مخ ۲۳
[8] د علي خان دیوان، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۵ء، مخ
9هم دغه اثر، مخ ۵
10هم دغه اثر، مخ ۲۰
11هم دغه اثر، مخ ۲۹
12هم دغه اثر، مخ ۷۸
13هم دغه اثر، مخ ۲۰
14هم دغه اثر، مخ ۲۱
15هم دغه اثر، مخ ۲۰
16هم دغه اثر، مخ ۲۱
17هم دغه اثر، مخ ۱۵۰
18هم دغه اثر، مخ ۲۰
19هم دغه اثر، مخ ۸۱
20هم دغه اثر، مخ ۹۸
21هم دغه اثر،مخ ۴۵

---

22هم دغه اثر، مخ ۱۵
23هم دغه اثر،
24هم دغه اثر، مخ ۲۲
25هم دغه اثر، مخ ۲۳
26هم دغه اثر،مخ ۱۴۲
27هم دغه اثر، مخ ۱۴۸
28هم دغه اثر، مخ ۱۵۵
29هم دغه اثر،مخ ۱۸۴
30هم دغه اثر، مخ ۱۵۵
31هم دغه اثر، مخ ۱۵۵
32هم دغه اثر، مخ ۱۸۵
33هم دغه اثر، مخ ۱۴۸